
هفته واره رساله



# فیضانِ لَیلَةُ القَدر

(پښتو)

- د نیک اعمال رسالې برکت
- د تولو ښېګړو نه محروم څوک
- د مسلمان، مؤمن او مهاجر تعریف
- لَیلَةُ القَدر پټه ولې ده؟



ترجمه
TRANSLATION DEPARTMENT
[DAWAT-E-ISLAMI]

شیخِ طریقت امیرِ اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا ابو بلال
محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوي دامت برکاتهم العالیه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# فیضانِ لیلةُ القدر [1]

دُعائے عطّار: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله "فیضانِ لیلةُ القدر" ولولي یا واوري هغهٔ ته ستا د عبادت کولو توفیق ورکړې او هغهٔ سره د مور او پلاره او سره د خاندانه جنَّت الفردوس ته بے حسابه داخل کړې.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د آخري نبي رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "چا چې په ما باندې په ورځ کښې زر ځله درود شریف ولوستو، هغه به مړ کیږي نه، تر څو پورې چې په جَنَّت کښې خپل ځائے اُونه ویني.

(الترغیب والترہیب، 328/2، حدیث:22)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## لَیْلَةُ الْقَدْر ته لَیْلَةُ الْقَدْر ولې وائي؟

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! لَیْلَةُ الْقَدْر ډیره زیاته بَرَکتونو والا شپه ده. دې ته لَیْلَةُ الْقَدْر ځکه وائي چې په دې کښې د ټول کال اَحکام نافِذ کیږي او

---

[1] ... دا مضمون د امیرِ اهلِ سنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د کتاب "فیضانِ رمضان" د صفحه نمبر181 نه تر 202 نه اخستے شوے دے.

فرښتے د ټول کال په کارونو او خِدماتو مامور کړے شي او دا هُم وئيلے شوي دي چې د نورو شپو په مقابله کښې د دې شپې د قَدر او مَنزِلت په وجه دې ته لَيۡلَةُ الۡقَدۡر وائي او دا هُم منقول دي چې په دې شپه کښې نيک اعمال مقبول وي او بارګاهِ اِلٰهى کښې د دې [نيکو اعمالو] قدر کيږي ځکه دې ته لَيۡلَةُ الۡقَدۡر وائي. (تفيسرِ خازن ج4 ص473) نور هُم ګڼ شمير شرافتونه دې شپې ته حاصل دي.

په **بُخاري** شريف کښې دي، **فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "چا چې په لَيۡلَةُ الۡقَدۡر کښې اِيمان او اِ**خلاص** سره قِيام وکړو (يعني نمونځ يـې وکړو) نو د هغه تير شوي (صغيره) ګناهونه به مُعاف کړے شي." (بُخاری ج1 ص660 حدیث 2014)

## 83 کالو او څلورو مياشتو د عبادت نه زيات ثواب

دا مُقَدَّسه شپه هيڅکله هُم په غَفلت کښې تيرول نه دي پکار، **په دې شپه کښې عِبادت کوونکي ته د يو زر مياشتو يعني د درې آتيا کالو او څلورو مياشتو نه هُم زيات ثواب ورکولے کيږي** او د دې "زيات" عِلم **الله پاک** ته دے يا د هغه جَلَّ جَلَالُهٗ په ښودلو د هغه خوږ **حبيب** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دے چې څومره دے. په دې شپه حضرتِ سَيِّدُنا جبرِيل عَلَيۡهِ السَّلَام او [نورې] فرښتے نازليږي او بيا عِبادت کوونکو سره **مُصافَحه** کوي [يعني لاس ملاووي]. د دې مبارکې شپې هر يو ساعت سلامتي او سلامتي ده او دا سلامتي د صبا صادِقه پورې برقراره اوسي. دا د **الله پاک** خاصُ الخاص کرم دے چې دا عظيمه شپه يـې صرف خپل خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته او د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطِر يـې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت ته عطا کړې ده.

**الله پاک** په قُرآنِ پاک کښې اِرشاد فرمائي:

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط
اِنَّاۤ اَنۡزَلۡنٰہُ فِیۡ لَیۡلَۃِ الۡقَدۡرِ ۚ﴿۱﴾ وَ مَاۤ اَدۡرٰىکَ مَا لَیۡلَۃُ الۡقَدۡرِ ؕ﴿۲﴾ لَیۡلَۃُ الۡقَدۡرِ ۬ۙ خَیۡرٌ مِّنۡ اَلۡفِ شَہۡرٍ ؕ﴿ؔ۳﴾ تَنَزَّلُ الۡمَلٰٓئِکَۃُ وَ الرُّوۡحُ فِیۡہَا بِاِذۡنِ رَبِّہِمۡ ۚ مِنۡ کُلِّ اَمۡرٍ ۛ﴿ۙ۴﴾ سَلٰمٌ ۟ۛ ہِیَ حَتّٰی مَطۡلَعِ الۡفَجۡرِ ٪﴿۵﴾

ترجمۂ کنزُالعِرفان: د **اللّٰه** په نوم شروع چې ډېر زيات مهربانه، رحم کوونکے دے. بيشکه دا قرآن مونږه په شبِ قدر کښې نازل کړو (١) او تا ته څه معلومه چې شبِ قدر څه ده؟ (٢) شبِ قدر د زرو مياشتو نه بهتره ده (٣) په دې شپه کښې فرښتے او جبريل د خپل رب په حُکم د هر کار د پاره راکوزيږي (٤) دا شپه د سحر راختلو پورې سلامتي ده (٥)

(پ30: سُوْرَۃُ الْقَدْر)

مُفَسِّرِين کرام رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِم د سُوْرَۃُ الْقَدْر باره کښې فرمائي: "په دې شپه کښې **اللّٰه پاک** قُرآنِ کريم د لَوحِ **محفوظ** نه آسمانِ دُنيا باندې نازِل کړو او بيا يــې تقريباً د 23 کالو په موده کښې په خپل خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې په قلاره قلاره نازل کړو."

(تفیسرِ صاوی ج6 ص2398)

نَبِيِّ اکرم، رسُولِ **مُحترم** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: بيشکه **اللّٰه پاک** زما اُمَّت ته شَبِ **قَدر** عطا کړه او دا شپه يــې ستاسو نه **مخکښې** يو اُمَّت ته هُم نه ده ورکړې.

(اَلْفِرْدَوْس بِمَأْثُور الْخطّاب ج1 ص173 حديث647)

## د زرو مياشتو نه بهتره يوه شپه

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام **مُجاهِد** رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: د بــني اِسرائيل يو کس به ټوله شپه عِبادت کولو او ټوله ورځ به په جِهاد کښې مصروف اوسيدلو او دغسې هغه زر مياشتې تيرې کړې وې نو **اللّٰه پاک** دا آيتِ مُبارَکه نازل کړو: لَیۡلَۃُ الۡقَدۡرِ ۬ۙ خَیۡرٌ

مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ ۚ﴿۳﴾ ترجمۂ کنزُالعِرفان: شبِ قدر د زرو میاشتو نه بهتره ده) یعني د شَبِ قدر قِیام [یعني عِبادت] د هغه عابِد (یعني عِبادت گُزار) د زرو میاشتو د عِبادت نه بهتر دے. (تفسیرِ طبری ج24 ص533)

## زمونږه عُمرونه خو ډیر لږ دي

اور په "تفسیرِ عزیزي" کښې دي: حَضَراتِ صحابۂ کرام علیہم الرضوان چې کله د حضرتِ **شَمعُون** رحمۃ اللہ علیہ د عِباداتو او جِهاد تَذکره واوریدله نو هغوئي ته په حضرتِ شَمعُون رحمۃ اللہ علیہ ډیر رَشک [یعني رَخه] ورغله او د خوږ نبي صلی اللہ علیہ والہ وسلم په دربار کښې یې عرض وکړو: "یارَسُولَ الله صلی اللہ علیہ والہ وسلم! مونږ ته خو ډیر لږ عُمرونه راکړے شوي دي، په دې کښې هُم څه حِصّه په خوب کښې تیریږي او څه په طَلَبِ مَعاش کښې، پخلي او خوراک کښې او نورو دُنیوي اُمُورو کښې هُم څه وخت اولګي. لِهذا مونږ خو د حضرتِ شَمعُون رحمۃ اللہ علیہ په شان عِبادت هډو کولے نه شو، دغسې به بني اِسرائیل زمونږ نه په عِبادت کښې مخکښې شي." د اُمَّت غَمخوار آقا صلی اللہ علیہ والہ وسلم چې دا واوریدل نو غمګین شو، په هُم هغه ساعت حضرتِ سَیِّدُنا جِبرئیلِ اَمِین علیہ السلام سُوْرَةُ الْقَدْر راوړو او د خوږ نبي صلی اللہ علیہ والہ وسلم په دربارِ مُبارک کښې حاضر شو او تَسَلِّي ورکړے شوه چې **خوږه حَبِیبه** (صلی اللہ علیہ والہ وسلم) خفه کیږه مه، ستاسو صلی اللہ علیہ والہ وسلم اُمَّت ته مونږه په هر کال کښې یوه داسې شپه ورکړي ده چې **که هغوئي په هغه شپه کښې عِبادت کوي نو د** (حضرتِ) **شَمعُون** رحمۃ اللہ علیہ **د زرو میاشتو د عبادت نه به هُم مخکښې شي.** (ماخوذ از تفسیرِ عزیزی ج3 ص257)

## د باکرامَت شَمعُون اِیمان تازه کوونکے حِکایت

د هُم دې حضرتِ **شَمعُون** رحمۃ اللہ علیہ په باره کښې په "**مُکاشَفَةُ الْقُلُوب**" کښې یو نهایت ایمان تازه کوونکے حِکایت بیان کړے شوے دے، د هغې مضمون څه

داسې دے: د بـني اِسرائيلو يو بزرګ **حضرتِ شَمعُون** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د زرو مياشتو پورې داسې عِبادت وکړو چې د شپې به يـې قِيام کولو او د ورځې به يـې روژه نيولو سره سره د **الله پاک** په لار کښې کفّارو سره جِهاد هُم کولو. هغه دومره طاقتور وو چې د وسپنې وزني او مضبوط زنځيرونه به يـې په لاسونو ماتول. کفّارو بدکردارو چې اوليده چې د **حضرتِ شَمعُون** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خِلاف يوه طريقه هُم نه چليږي نو په خپلو کښې مشورے نه پس يـې د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ښځې ته د مال او دولت لالچ ورکړو او دې خبرې ته يـې تياره کړه چې که هغې چرته په کومه شپه هغه د خوب په حالت کښې اوليدو نو په مضبوطو رسو دې يـې وتړي او هغوئي ته دې يـې حواله کړي. بے وفا ښځې هُم داسې وکړل. چې کله هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه رابيدار شولو او خپل ځان يـې په رسو تړلے اوليدو نو فوراً يـې خپلو اندامونو ته حَرَکت ورکړو، فوراً رسۍ اوشليدلې او هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه آزاد شو. بيا يـې خپلې ښځې نه تپوس وکړو چې "زه چا تړلے ووم؟" بے وفا ښځې دروغ اُووئيل چې دا خو ما ستاسو د طاقت اندازه معلومولو د پاره داسې کړي وو. خبره ختمه شوه.

بے وفا ښځه د موقعې په تلاش کښې وه. يو ځل بيا چې کله پرې د خوب غَلَبه شوه نو هغه ظالـمې ښځې د وسپنو په زنځيرونو کلک وتړلو. چې څنګه يـې سترګې اوغړيدلې نو په يوه جټکه کښې يـې د زنځير يوه يوه کړۍ ماته کړه او آزاد شو. ښځې يـې چې اوليدو نو وه ويريدله خو بيا يـې د مکارۍ نه کار واخستو او بيا يـې هُم هغه خبره وکړه چې ما خو ستاسو (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) ازميښت کولو. د خبرو په دوران کښې (حضرتِ) **شَمعُون** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپلې ښځې ته خپل راز ښکاره کړو او ويـې فرمائيل: په ما باندې د **الله پاک** لوي کرم دے، هغه ما ته د خپل

وِلایت شرف را کړے دے، ماباندې د دُنیا یو څیز هُم اثر نه شي کولے خو، "زما د سر وِیښته." چالاکه ښځه په ټوله خبره پوهه شوه.

آه! هغه د دُنیا مَحَبَّت ړنده کړې وه. آخر دا چې هغې یو ځل موقع اُومونده او حضرتِ **شَمعُون** رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ یـې د هغوئي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ د هغه اَته زُلفو نه اوتړلو چې د هغې اُوګړدوالے زمکې پورې وو. (دا د پخواني اُمَّت بُزرګ وو، زمونږه د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت زُلفې د غوږونو د نیمې پورې، د پوره غوږونو پورې او اُوګو مبارکو پورې دي، اُوګو نه ښکته وِیښته غټول نارینه د پاره حرام دي) چې د هغوئي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ سترګې وغړیدلې نو ډیر زور یـې وکړو خو آزاد نه شو او د دُنیا د دولت په نشه کښې مستې بے وفا ښځې خپل نیک او پرهیزګار خاوند دُښمنانو ته حواله کړو.

کفّارو بد کردارو **حضرتِ شَمعُون** رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ **یوې ستنې سره وتړلو او انتِهائي بے دردئ سره یـې ترینه شونډې او غوږونه پریک کړل.** نو هغه نیک بنده د **اللہ پاک** په بارګاه کښې سوال وکړو چې ما ته د دې غوټو خلاصولو قُوَت را کړې او په دې کافرو باندې دا ستن سره د چته راپریباسې او ما ته د دوئي نه خلاصے را کړې چنانچه **اللہ پاک** هغوئي ته قُوَّت ورکړو، چې هغوئي اُوخوزیدلو نو ټولې غوټې یـې اوشلیدلې، بیا هغوئي ستن اُوخوزوله نو د هغې په وجه په کافرو چت راپریوتو او هغوئي ټول هلاک شو او هغه نیک بنده ته **اللہ پاک** خلاصے ورکړو. (مأخوذ از مُکاشَفَةُ الْقُلُوب ص306 وغیره)

## آه! مونږ قدر نه کوو!

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** تاسو ولیده! **اللہ** تَبَارَکَ وَتَعَالٰی د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په اُمَّت خومره مهربانه دے او هغه په مونږه څنګه عظیمُ الشَّان احسان کړے دے چې که مونږه په **شَبِ قَدر** کښې عبادت وکړو نو د یو زر میاشتو د عبادت نه به هُم زیات ثواب حاصل کړو. خو آه!مونږه د **شَبِ قَدر**، قدر کله کوو! یو خو صحابۀ

کرام عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان وو چې د هغوئي د ارمان کولو په وجه مونږ تږولو ته دومره لوي **اِنعام** بغير د څه خواهش نه راکړے شو! بیشکه هغوئي د دې قَدر هُم وکړو خو افسوس مونږه ناقدره پاتې شو! آه! هر کال راکړے شوے دا عظيم الشّان اِنعام مونږه په غفلت کښې ضائع کوو.

## د نیک اعمالو د رِسالې بَرَکت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د **شَبِ قَدر** عَظَمت په زړه کښې زیاتولو د پاره د عاشقانِ رسول دِيني تحريک **دعوتِ اسلامي** دِيني ماحول سره هر وخت خپل تړون مضبوط ساتئ. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! مسلمانان نیک او نمونځ ګُزاره جوړولو په تَعَلُّق اِسلامي ورونړو د پاره 72، اسلامي خویندو د پاره 63 او د طَلَبهٔ عِلمِ دِين د پاره 92، دِيني طالِباتو لپاره 83، ماشومانو [وړو هلکانو او وړو جینکو] د پاره 40 او د خُصُوصي (يعني چاړاګانو او، نابِينا اسلامي ورونړو) د پاره 25 او قيديانو د پاره 52 نیک اعمال د تپوسونو په صُورت کښې مرَتَّب کړے شوي دي. د (خپلو اعمالو) جائزه (يعني مُحاسبه) کولو په ذريعه هره ورځ د نیک اعمالو رِساله [کښې خانے] ډکول او د دعوتِ اسلامي مُقامي ذِمَّه دار ته د هرې مياشتې په يکم تاريخ جمع کول وي. نیک اعمالو د ګڼ شمير اسلامي ورونړو او اسلامي خويندو په ژوند کښې مَدَني اِنقِلاب راوستے دے! د دې يو څرک اوګورئ: د نوې کراچۍ د يو اِسلامي ورور څه داسې بيان دے: د علاقے د جُمات اِمام صاحب چې **دعوتِ اسلامي** سره تَعَلُّق لري، هغوئي د اِنفرادي کوشش په دوران کښې زما مشر ورور ته د **نیک اعمالو** يوه رِساله په تُحفه کښې ورکړه. هغوئي کور ته راوړه او چې ويې لوستله نو حيران پاتې شو چې په دې مختصره شان رِساله کښې يو مسلمان ته د اسلامي ژوند تيرولو دومره زبردسته فارمولا ورکړے شوي ده! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د نیک

اعمالو رِساله حاصليدو په بَرَکت هغوئي کښې د نمانځه جذبه پيدا شوه او جَمعې سره نمونځ کولو د پاره جُمات ته حاضر شو او اوس پينځه وخته نمونځ گُزاره جوړ شوے دے، کِيره مبارکه يـې هُم پريښي ده او د نيک اعمالو رِساله هُم ډکوي.

## په نيک اعمالو عمل کوونکو د پاره عظِيم زيرے

خوږو او محترمو اسلامي ورونـو! د نيک اعمالو رِساله ډکوونکي څومره خوش قِسمته وي، د دې اندازه د دې مَدَني سپرلي نه ولګوئ، هغه دا چې د زَم زَم نګر (حيدرآباد سندھ) د يو اسلامي وررور څه په دې ډول حَلفِيَّه (يعني په قسم سره) بيان دے چې دَ رَجَبُ الْمُرَجَّب په يوه شپه ما ته په خوب کښې د رَحۡمَةٌلِّلۡعٰلَمِين صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم د ديدار کولو عَظِيم سعادت رانصيب شو. مُبارَکو شونډو يـې حَرَکت وکړو او د رحمت ګُلونه ترينه رژيدل شُروع شو، الفاظ څه داسې وو: **ثوک چې په دې مِياشت کښې هره ورځ پابندئ سره د مَدَني انعاماتو مُتَعَلِّق فِکرِ مدينه کوي،**[2] **الله پاک به د هغه بخښنه وکړي.**

مَدَنی اِنعامات کی بھی مرحبا کیا بات ہے
قُربِ حق کے طالبوں کے واسطے سوغات ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونـو! دا شپه په هر شان د خيريت او سلامتئ ضامِنه ده. دا شپه د اوّل نه واخله تر آخره پورې رَحمت او رَحمت ده. مفسِّرِينِ کرام رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہِم فرمائي: "دا شپه د مار لړم، آفتونو او مُصيبتونو او شيطانانو نه هُم محفوظه ده، په دې شپه کښې سلامتي او سلامتي ده."

---

[2] ... د دعوتِ اسلامي په اصطلاح کښې اوس مدني انعاماتو ته نيک اعمال او فکرِ مدينه ته جائزه اخستل وائي.

## د ټولو خیرونو نه محرومه څوک؟

حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: یو ځل چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک میاشت راغله نو نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: تاسو ته دا میاشت راغلې ده چې په دې کښې یوه شپه داسې هُم ده چې هغه د زرو میاشتو نه بهتره ده، کوم کس چې د دې شپې نه محرومه پاتې شو، لکه چې د ټولو خیرونو نه محرومه پاتې شو او د دې د خیر نه محرومه نه پاتې کیږي خو هغه کس کوم چې حقیقةً محرومه دے." (ابنِ مَاجَه ج2ص298حدیث1644)

## شِین بَیراغ

د خوږ مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یو فرمان مبارک حِصّه ده: "چې کله شَبِ قَدر راشي نو په حُکمِ اِلٰهی (حضرتِ) جِبرِیل (عَلَیۡہِ السَّلَام) یو شِین بَیراغ راغستے د فرښتو ډیر غټې فوځ سره زمکې ته راکوز شي (او د یو رِوایت مطابق: "د دې فرښتو شمیر د زمکې د شګئیو [یعني وړو وړو کاڼـو] نه هُم ډیر وي") (مُسْنَداَحمَد ج3ص606حدیث10739) او هغه شین بَیراغ په کعبهٔ مُعَظَّمه اُوپړقوي د (حضرتِ) جِبرِیل (عَلَیۡہِ السَّلَام) سل وزرې دي چې په هغې کښې دوه وزرې صرف په دې شپه خلاصوي، هغه وزرې په مشرق او مغرب کښې خورې شي، بیا (حضرتِ) جِبرِیل (عَلَیۡہِ السَّلَام) فرښتو ته حُکم ورکوي چې کوم یو مسلمان نن شپه په قِیام، نمانځه یا ذِکرُ الله کښې مشغول دے هغه سره **سلام او مصافَحه** وکړئ او د هغوئي په دُعاګانو آمِین هُم اُووائې. چنانچه تر سحره پورې هُم دا سلسله جاري وي. په سحر کیدو (حضرتِ) جِبرِیل (عَلَیۡہِ السَّلَام) فرښتو ته د بیرته تللو حُکم ورکوي. فرښتے عرض کوي: اے جِبرِیل (عَلَیۡہِ السَّلَام) **الله پاک** د **اُمَّتِ مُحَمَّدِیّه** د حاجاتو په باره کښې څه مُعامَله اُوفرمائیله: (حضرتِ) جِبرِیل (عَلَیۡہِ السَّلَام) فرمائي: **الله پاک** په دې خلقو خُصُوصي نظرِ کرم اُوفرمائیلو او

خلور قِسمه خلقو نه علاوه يې تول مُعاف کړل.“ صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض وکړو: ”يَارَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هغه څلور قِسمه خلق څوک دي؟“ اِرشاد يې اُوفرمائيلو: ﴿1﴾ يو خو عادت لرونکے شرابي ﴿2﴾ دويم د مور و پلار نافرمانه ﴿3﴾ قَطعِ رِحمي کوونکي (يعني خپلوانو سره تَعَلُّقات پريښودونکي) او ﴿4﴾ څلورم هغه، کوم خلق چې په خپل مينځ کښې عَداوت [يعني دُښمني ساتي] او په خپل مينځ کښې قَطعِ تَعَلُّق کوونکي. (شُعَبُ الْاِيْمَان ج3 ص336 حديث3695)

## د جګړې وَبال

د **حضرتِ** سَيِّدُنا عُباده بِن صامِت رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې خوږ خوږ آقا مکی مَدَنی مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بَهر تشريف راوړو چې مونږ ته د **شَبِ قَدر** په باره کښې اوښائي (چې په کومه شپه کښې دے) دوو مسلمانانو خپل مينځ کښې **جګړه** کوله. خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: ”زه څکه راغلے ووم چې تاسو ته **شَبِ قَدر** اوښايم خو فلانکي فلانکي کس **جګړه** کوله، څکه د دې تَعَيُّن اوچت کړے شو، او کيدے شي چې په هُم دې کښې ستاسو بهتري وي، اوس دا (د آخري عَشرے) په **نهمه، اوومه** او **پينځمه** شپه کښې اولټوئ.“ (بُخاری ج1 ص663 حديث2023)

**حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په **مِرْاٰة المناجيح** جِلد 3 صفحه 210 کښې د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: يعني زما د عِلم نه د هغې تَقَرُّر لرې کړے شو او زما نه هيره کړے شوه، دا مطلب نه دے چې د سره يې **شَبِ قَدر** ختم کړو او اوس به ګڼي هغه هډو کيږي نه. دې نه دا معلومه شوه چې دُنياوي جګړې سپيرې دي، د دې وَبال ډير زيات دے، د دې په وجه د **الله پاک** رحمتونه راتلل ايساريږي.

## مونږ خو شریف سره شریف او ...

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! **د مسلمانانو په خپل مینځ کښې جنګ جګړه کول رَحمت نه د لرې والي سبب جوړيږي.** خو آه! اوس به څوک يو بل ښکنځه پوهه کړي! نن صبا خو ډير په فخر سره دا خبره کيږي چې "وروره په دې دُنيا کښې په شرافت سره اوسيدو باندې ګُزاره نه کيږي، مونږ خو د شريفانو سره شريفان او بدماشانو سره بدماشان يو!" صرف دا وئيل کافي نه ګڼـي، اوس خو معمولي خبره باندې اول د خُلې بد رد، بيا لاس اچولو، او د هغې نه پس چاقو چاړے بلکې ډزو ته خبره اورسي. اَفسوس! نن صبا بعضې مسلمانان کله د **پښتون،** کله د **پنجابي،** کله د **مُهاجِر،** کله د **سندهي** او کله د **بلوچ** قومِيَّت نعره لګوي او د يو بل مرئ پريک کوي. د يو بل مال او جائداد سوزوي . په خپل مينځ کښې صرف د نسلي او لِساني فرق په وجه جنګ جګړو کښې اخته وي. مسلمانانو! تاسو خو د يو بل محافظ وئ، دا په تاسو څه اوشو؟ ستاسو د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان خو دا دے چې: "د مُؤمِنانو مِثال خو د يو بدن په شان دے چې که يو اندام ته تکليف اورسي نو ټول بدن د هغې تکليف محسوسوي."

(بُخاری ج4 ص103 حدیث6011)

يو شاعر په څومره ښکلي انداز پوهه کول کړي دي:

مبتلائے درد کوئی عضو ہو روتی ہے آنکھ
کس قدر ہمدرد سارے جسم کی ہوتی ہے آنکھ

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مونږ ته خپل مينځ کښې د جنګ جګړې کولو په ځائے يو بل سره همدردي او غمرازي کول پکار دي. مسلمان يو بل وهلو والا او کټ کولو او لوټ کولو والا نه وي.

## د مسلمان مُؤمِن او مُهاجِر تعریف

د حضرتِ سَیِّدُنا فَضاله بِن عُبَید رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه رِوایت دے چې تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حَجَّةُ الْوَداع په موقع باندې اِرشاد اُوفرمائیلو: "آیا تاسو ته د مُؤمِن په باره کښې خبر درنکړم؟" بیا یې اِرشاد اُوفرمائیلو: "مُؤمِن هغه دے چا نه چې نور مسلمانان د خپل ځان او خپلو مالونو نه بے ویرې وي او مسلمان هغه دے د چا د ژبې او لاس نه چې نور مسلمانان محفوظ اوسي او مُجاهِد هغه دے چا چې د اِطاعتِ خُداوندي په مُعامَله کښې خپل نفس سره جِهاد وکړو او مُهاجِر هغه دے چا چې د خطا او گُناهونو نه علیحدگي اختیار کړه." (اَلْمُسْتَدْرَک ج1 ص158 حدیث24) او اِرشاد یې اُوفرمائیلو: مسلمان د پاره جائز نه دي چې بل مسلمان طرف ته په سترگه داسې اِشاره وکړي چې د هغې نه [هغه ته] تکلیف اورسي. (اِتحَافُ السَّادَة ج7 ص177) په یو مُقام یې اِرشاد اُوفرمائیلو: یو مسلمان ته جائز نه دي چې هغه یو مسلمان اویَروي. (اَبو داؤد ج4 ص391 حدیث5004)

طریق مصطفٰی کو چھوڑنا ہے وجہ بربادی
اسی سے قوم دنیا میں ہوئی بے اقتدار اپنی

## ناقابِلِ برداشت خارخت

**حضرتِ** سَیِّدُنا مُجاهِد رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: دوزخیان به په داسې **خارخت** کښې اخته کړے شي چې په گرَولو گرَولو به یې خرمنې ولاړې شي تر دې چې په هغوئي کښې به د چا هډوکي ښکاره شي. بیا به غږ واوري، اے فلانکیه: آیا دې نه تا ته تکلیف کیږي؟ هغه به وائي: آو. هله به هغوئي ته اُووئیلے شي: په دُنیا کښې به چې تاسو مسلمانان تنگول دا د هغې سزا ده." (اِتحَافُ السَّادَة ج7 ص175)

## د تکلیف لرې کولو ثواب

د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد دے: ما یو کس په **جَنَّت کښې په ګرځیدو [راګرځیدو]** اولیدو چې کوم ځائے ته غوارې اُوځي ځکه چې هغه په دې دُنیا کښې یوه داسې ونه د لارې نه کټ کړې وه چې هغې به خلقو ته تکلیف ورکولو. (مُسلِم ص1410 حدیث2618)

## که جنګ کوې نو نفس سره جنګ کوه!

خوږو او محترمو اسلامي ورونـو! د دې اَحادِیثِ مبارکه نه درس حاصل کړئ او خپل مینځ کښې د جنګ جګړې او لُوټ مار نه پرهیز وکړئ. که جنګ کوئ نو شیطان مردود سره جنګ وکړئ، بلکې ضرور ورسره جنګ وکړئ، **نَفسِ اَمّاره** سره جنګ وکړئ، د جِهاد په وخت کښې د دِین دُښمنانو سره قِتال وکړئ، خو په خپل مینځ کښې ورونـه ورونـه جوړ شئ.

فرد قائم ربط ملت سے ہے تنہا کچھ نہیں
موج ہے دریا میں اور بیرونِ دریا کچھ نہیں

## آقا ﷺ مُسکے وو!

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د **دعوتِ اسلامي** دِیني ماحول کښې د هیڅ قِسمه لِساني او قومي اختلاف نشته، هرې ژبې وئیلو والا او هرې ورورولئ سره تَعَلُّق لرونکي د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم والا لمن کښې پناه اخستې ده. تاسو هُم هر دَم د دعوتِ اسلامي دِیني ماحول کښې شامل اوسئ او په عِشقِ رَسُول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې ډوب ژوند تیرولو د پاره خپل ځان د نیک اعمالو په قالب کښې واچوئ. د ترغیب او تَحریص د پاره یو خوشګوار او خوشبودار مَدَنـي سپرلے تاسو ته

اُورووم، د عاشقانِ رسول دِيني تحريک **دعوتِ اسلامي** عالمي مَدَنــي مرکز فيضانِ مدينه کراچۍ ته **مَدَني قَافِله کورس** کولو د پاره تشريف راوړونکــي د **راولپنډۍ** يو مُبَلِّغ چې کوم حَلفِيه بيان ليکلے راکړے دے د هغې خُلاصه ده: زه په **عالَمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه** کښې اُوده ووم، د سر سترګې مې څه پټې شوې چې **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! د زړه سترګې مې اوغړيدې، په خوب کښې مې اوليدو چې حُضُور رِسالت مآب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په يوه اوچته چوتره باندې تشريف فرما دے، نزدې ورته د **مدني انعاماتو**[3] د **کارډونو** بورۍ پرتې دي. خوږ مَدَنــي آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **مدني انعاماتو** يو يو **کارډ** په غور کتلو او مُسکے وو. بيا زما سترګې اوغړيدې.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د جادوګر جادو ناکام

**حضرتِ** سَيِّدُنا اِسمٰعيل **حَقِّي** رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نقل کوي: دا شپه د آفتونو نه د سلامتۍ ده په دې کښې صرف رَحمت او خير په زمکه نازليږي. نه په دې کښې شيطان په چا د بدۍ کولو طاقت لري او نه **د جادوګر جادو** په دې کښې چليږي. (رُوحُ البَيان ج10 ص485 مُلَخَّصاً)

## د شَبِ قَدر نښې

حضرتِ سَيِّدُنا عُبادَه بِن صامِت رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بارګاهِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې د **شَبِ قَدر** په باره کښې پوښتنه وکړه نو سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: ''**شَبِ قَدر** د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د آخري عَشرے په طاق شپو يعني يو وِيشتمه، درې وِيشتمه، پينځه وِيشتمه، ووه وِيشتمه يا يو کـم ديرشمه شپه کښې اولټوۍ. نو څوک چې

[3]... د دعوتِ اسلامي په اصطلاح کښې اوس مدنی انعاماتو ته نيک اعمال وائي.

اِيمان سره د ثواب په نِيَّت په دې شپه کښې عِبادت وکړي، د هغه تير شوي او راروان ګناهونه به اُوبخښلے شي. د هغې په نښو کښې دا هُم دي چې هغه مبارکه شپه ښکاره، روښانه او بالکل صفا وي. په دې کښې نه زياته ګرمي وي نه زياته يخني، بلکې دا شپه مُعتَدِله وي، لکه په دې کښې چې سپوږمۍ روښانه وي، په دې پوره شپه شيطان د آسمان په ستورو نه وِيشتلے کيږي. د نورو نښو نه دا هُم دي چې د دې شپې د تيريدو نه پس چې کوم سحر راځي په هغې کښې د نمر سترګه بغير د پلوشو نه راخيژي او هغه داسې وي لکه د څوارلسمې سپوږمۍ. **الله پاک** په دې ورځ د نمر سترګې راختو سره شيطان د راوتلو نه ايسار کړے دے." (د دې يوې ورځې نه علاوه هره ورځ د نمر سترګې سره سره شيطان هُم را اُوځي) (مُسْنَدِ اِمام اَحمَد ج8 ص402، 414، حديث22776، 22829)

## د شَبِ قَدر پټ ساتلو حِکمت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په حديثِ پاک کښې فرمائيلے شوي دي چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د آخري عَشرے په طاق شپو کښې يا د آخرۍ شپې اګر که هغه ديرشمه شپه وي، [يعني په دې شپو کښې] يوه شپه **شَبِ قَدر** وي. د دې شپې په مخفي (يعني پټ) ساتلو کښې يو حِکمت دا هُم دے چې مسلمان د دې شپې په تلاش (يعني لټون) کښې هره شپه د **الله پاک** په عِبادت کښې د تيرولو کوشش وکړي معلومه نه ده چې کومه شپه به **شَبِ قَدر** وي.

## د سمندر اوبه خوږې شي (حِکايت)

د حضرتِ سَيِّدُنا عُثمان بِن اَبِـي العاص رَضِیَ اللہُ عَنْہُ غُلام هغوئي ته عرض وکړو: "اے آقا (رَضِیَ اللہُ عَنْہُ) زه د يوې مودے نه جاله واني کووم [يعني کشتۍ چلووم]، ما د

سمندر په اوبو کښې يوه داسې عجيبه خبره محسوسه کړه.“ هغوئي ترينه تپوس وکړو: ”هغه عجيبه خبره څه ده؟“ عرض يې وکړو: ”اے زما آقا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هر کال يوه داسې شپه هُم راځي چې په هغې کښې د سمندر اوبه خوږے شي.“ هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ غُلام ته اُوفرمائيل: ”دا ځل خيال ساته چې څنګه د شپې اوبه خوږې شي ما ته خبر وکړه.“ چې کله د **رَمَضان** اووه وِيشتمه شپه راغله نو غُلام آقا ته عرض وکړو چې ”آقا! نن د سمندر اوبه خوږې شوې دي.“ (تَفۡسِیر عزیزی ج3 ص258، تفسیرِ کبیر ج11 ص230) **د الله پاک دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.** اٰمِیۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## مونږه نښې ولې نه وِينو؟

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د **شَبِ قَدر** ګڼ شمير علاماتو تذکره تيره شوه. زمونږه په ذِهن کښې دا سوال پيدا کيدے شي چې زمونږه د عُمر ډير کلونه تير شو، هر کال **شَبِ قَدر** راځي او تيره شي خو مونږ ته تر اوسه پورې د دې نښې ښکاره نه شوې؟ د دې په جواب کښې عُلَمائے کرام رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم فرمائي: د دې خبرو تَعَلُّق **کشف او کرامت** سره دے، دا عام سړے نه شي ليدلے. صرف هغه يې ليدلے شي چا ته چې د بصيرت (يعني قَلبي نظر) نعمت حاصل وي. هر وخت د مَعصِيَت [يعني نافرمانئ] په نجاست کښې ککړ اوسيدو والا ګنهګار انسان دا نظارې چرته ليدے شي! ؎

آنکھ والا ترے جوبن کا تماشا دیکھے
دیدہ کور کو کیاآئے نظر کیا دیکھے

## طاق شپو کښې يې اولټوئ

اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه رِوايت دے: د نبيانو سرتاج، صاحِبِ مِعراج صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: **شَبِ قَدر** د **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** د آخري عَشرے په **طاق شپو** (يعني يو وِيشتمې، درې ويشتمې، پينځه وِيشتمې، ووه وِيشتمې او يو کم ديرشمې شپو) کښې تلاش کړئ." (بُخاری ج1 ص661 حديث2017)

## آخرو اووه شپو کښې يې تلاش کړئ

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا رِوايت کوي: د حُضُور انور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بعضو صحابۀ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان ته په خوب کښې **شَبِ قَدر** ښودلے شوے دے. خوږ خوږ آقا مکی مَدَنی مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: "زه وِينم چې ستاسو خوبونه په آخري اووه شپو کښې مُتَّفِق شوي دي. ځکه دې د دې تلاش کوونکے دا په آخري ووه شپو کښې تلاش کړي." (بُخاری ج1 ص660 حديث2015)

## لَيْلَةُ الْقَدْر پټ ولې؟

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د **الله پاک** سُنَّتِ کريمه دي چې هغه بعض اَهَم ترين مُعامَلات په خپل مَشِيَّت د بندګانو نه پټ ساتلي دي. څنګه چې منقُول دي: **الله پاک** خپله **رِضا** په نيکو کښې، خپله **ناراضي** په ګُناهونو کښې او خپل **اولياء** رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہِم په خپلو بندګانو کښې پټ ساتلي دي." (اَخلاقُ الصَّالِحِين ص56) د دې خُلاصه دا ده چې بنده دې د وړې ګڼـلو په وجه يوه نيکي هُم نه پرېږدي. ځکه چې هغه نه دے خبر چې **الله پاک** به په کومه نيکئ راضي کيږي، کيدے شي چې په ظاهره وړه ښکاريدو والا نيکئ باندې **الله پاک** راضي شي. مَثَلًا د قِيامت په ورځ به يو ګنهګار کس صرف د دې نيکئ په عِوَض کښې اُوبخښلے شي چې

هغه په يو تړي سپي باندې په دُنيا کښې اوبه څښلې وې. هُم دغسې خپله ناراضي په ګناهونو کښې د پټولو حِکمت دا دے چې بنده يوه ګناه د وړې ګڼلو په وجه اونکړي، بس چې د هرې ګناه نه ځان ساتي. ځکه چې هغه نه دے خبر چې الله پاک به په کومه ګناه ناراضه کيږي. هُم دغسې يې اولياء رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم په بندګانو کښې ځکه پټ کړي دي چې انسان د هر نيک حقيقي پابندِ شرع مسلمان رِعايت او تعظيم وکړي ځکه چې کيدے شي هغه **وَلِيُّ** الله وي. چې کله مونږه د نيکو خلقو د زړه نه **تعظِيم** [يعني ادب] کوو، د بدګُمانئ نه ځان ساتو او هر مسلمان د خپل ځان نه ښه ګڼل شروع کړو نو زمونږه مُعاشره به هُم صحيح شي او اِنْ شَآءَالله زمونږه آخرت به هُم بهتر شي.

## د حِکمتونو مَدَني ګلونه

**اِمام فَخرُ الدِّين رازي** رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په "تفسيرِ کبِير" کښې فرمائي: **الله پاک شَبِ قَدر** په يو څو وجهو پټ ساتلې ده. اوّل دا چې څنګه يې نور څيزونه پټ ساتلي دي، مَثَلًا **الله پاک** خپله **رِضا** په طاعتونو [يعني نيکو] کښې پټه ساتلې ده چې بنده په هر طاعَت کښې رَغبت حاصل کړي. خپل **غضب** يې په ګناهونو کښې پټ ساتلے دے چې بنده د هرې ګناه نه ځان ساتي. خپل **ولي** يې په خلقو کښې پټ کړے دے چې خلق د هر کس **تعظِيم** [يعني ادب] کوي، د **دُعا قبولِيَّت** يې په دُعاګانو کښې پټ کړے دے چې په ټولو دُعاګانو کښې مُبالَغه کوي او **اِسمِ اَعظم** يې په اِسمونو کښې پټ کړے دے چې خلق د ټولو اَسماء تعظيم کوي. او صَلٰوةِ وُسطٰی يې په نمونځونو کښې پټ کړے دے چې په ټولو نمونځونو **مُحافَظَت** (يعني هميشګي) اختيار کړي او قبولِ تَوبه يې پټ ساتلے دے چې بنده د توبه په ټولو قِسمونو هميشګي اختيار کړي، او د مرګ وخت يې پټ

ساتلے دے چې مُکلَّف (يعني بنده) په ويره کښې اوسيږي. هُم دغسې يې شَبِ قَدر هُم پټ ساتلے دے چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د ټولو شپو تعظيم کوي. بله دا چې لکه **اللّٰه پاک** چې اِرشاد فرمائي: "که ما شَبِ قَدر مُعَيَّن کړے (په تا ظاهر کړے) وے او دا چې [اے کمزورريه بنده!] ما ته په ګُناه باندې ستا جُرأت هُم معلوم دے نو که کله ته شَهوَت په دې شپه د نافرمانۍ غاړې ته راوستے وے او ته په ګُناه کښې اخته شوے وے نو ستا د دې شپې د پيژندلو باوجود ګناه کول به ستا [د دې نه] بے خبرۍ سره ګناه کولو نه زياته سخته وے، پس په دې وجه دا ما پټه اوساتله چې بنده د دې په طَلَب کښې کوشش وکړي او د خپل کوشش ثواب اوګټي. خلورمه دا چې بنده ته د شَبِ قَدر تَعَيُّن حاصل نه وي نو د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په هره شپه کښې به د **اللّٰه پاک** په اِطاعَت کښې کوشش کوي په دې اُمّيد چې کيدے شي دا شَبِ قَدر وي. (تفسیرِ کبیر ج11 ص29مُلَخَّصاً)

## په کال کښې کومه شپه هُم شَبِ قَدر کيدے شي

د شَبِ قَدر په تَعَيُّن کښې په عُلَمائے کرامو رَحمَةُ اللّٰهِ عَلَيهِم کښې کافي اختلاف موجود دے. تر دې چې د بعضو بُزرګانو رَحمَةُ اللّٰهِ عَلَيهِم په نزد شَبِ قَدر په پوره کال کښې تاويږي راتاويږي. مَثَلًا د **فَقِيهُ الاُمَّه** حضرتِ سَيِّدُنا عبدُاللّٰه اِبنِ مسعُود رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ فرمان دے: شَبِ قَدر هُم هغه کس موندلے شي چې خوک د پوره کال په شپو تَوجُّه ساتي. (تفسیرِ کبیر ج11 ص230) د دې قول په تائيد کښې اِمامُ العارِفِين سيّدُنا شيخ مُحىُ الدِّين اِبنِ عَرَبِي رَحمَةُ اللّٰهِ عَلَيه فرمائي چې ما د شَعْبَانُ الْمُعَظَّم په پينځلَّسمه شپه (يعني په شَبِ بَراءَت) او يو ځل د شَعْبَانُ الْمُعَظَّم په يو کم ديرشمه شپه شَبِ قَدر موندلي ده او د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په ديارلسمه شپه او اَتلَّسمه شپه مې هُم ليدلي ده او په مختلفو کلونو کښې مې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د آخرۍ عَشرے په هره طاق شپه

کښې مونډلې دہ. نور فرمائي: اګرچې زیات تر شَبِ قَدر په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې وي خو زما تجرِبه هُم دا ده چې دا په پوره کال کښې تاويږي راتاويږي. يعنې د هر کال د پاره د دې صرف يوه ورځ مخصوصه نه ده. (اِتحَافُ السَّادَة ج4 ص392)

## د رَحمَتِ کونَين ﷺ سره د شيخينو رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا تشريف راوړل

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول کښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د اعتِکاف ښه ښکلې سپرلې وي، د دُنيا په مختلفو ملکونو کښې اِسلامي ورونـه په جُماتونو کښې او اسلامي خويندې په "مسجِدِ بَيت" کښې د اِعتِکاف سعادت حاصلوي او ډير ډير بَرَکتونه حاصلوي. د ترغيب د پاره يو مَدَنـي سپرلے تاسو ته بيانووم: د تحصِيل لياقت پور، ضلع رَحِيم يار خان (پنجاب پاکستان) د يو اسلامي ورور د بيان خُلاصه ده: زه د فِلمونو داسې شوقي ووم چې زمونږ د کلي د سي ډيانو د دُکان تقريباً نيمې سي ډياني مې کتلې وې. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ما ته د طلباني کلي مَدَنـي مسجِد کښې (په 1422ھ، بمطابق 2001ء کښې) د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د آخرئ عَشرے د اِعتِکاف کولو سعادت نصيب شو. د دعوتِ اسلامي د عاشقانِ رَسُول د صُحبت د بَرَکتونو به څه وائې! د 27 رَمَضَانُ الْمُبَارَک ناقابِلِ فراموش ايمان تازه کوونکې واقعه د تَحدِيثِ نِعمت د پاره عرض کووم: ټوله شپه مې په بيدارئ کښې تيره کړه او په ژړا ژړا مې د سرکارِ نامدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د دِيدار خيرات اُوغوښتو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د سحر په وخت کښې په ما د کرم دروازه برسيره شوه، ما د خوب په حالت کښې اوليدل چې زه په يو جُمات کښې دننه يم، په دې کښې چا اعلان وکړو: "حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به تشريف راوړي او د نمانځه اِمامت به کوي." لږ سعت پس رَحمَتِ کونَين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د شيخينِ کرِيمَين رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا تشريف راوړو صرف يو نظر مې اوليدو بيا زما سترګې اوغړيدې او هغه ښکلے منظر مې د

سترګو نه پناه شو، په دې مې يو دم زړه نرے شو او سترګو نه مې اوښکې روانې شوې دومره مې اوژړل چې سلګۍ راباندې اولګيدې اے کاش!ـه

اتنی مدت تک ہو دیدِ مصحفِ عارِض نصیب
حفظ کر لوں ناظرہ پڑھ پڑھ کے قرانِ جمال (ذوقِ نعت، ص164)

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د هغې نه پس زما په زړه کښې د عاشقانِ رسول دِينې تحريک **دعوتِ اسلامي** مَحَبَّت نور زيات شو بلکې بس زه نور ټځپله د **دعوتِ اسلامي** شوم. کور نه مې ترکيب جوړ کړو او کراچۍ ته روان شوم او درسِ نِظامي کولو د پاره مې جامِعَةُ الْمدِينه کښې داخله واخسته. د دې بيانورکولو په وخت په درجۀ اُولٰی کښې عِلمِ دِين حاصلولو سره سره تنظيمي طور د يو ذيلي حلقه ذِمَّه دار په حيثِيَّت د **دعوتِ اسلامي** د دِيني کارونو عام کولو کوشش کووم.

جلوہ یار کی آرزو ہے اگر مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
میٹھے آقا کریں گے کرم کی نظر مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
(وَسائلِ بخشش ص 639)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اِمام اعظم، اِمام شافعي او صاحبَينو اقوال

سَيِّدُنا امامِ اعظم ابو حنيفه رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ نه په دې باره کښې دوه قَوله منقول دي: ﴿1﴾ لَيۡلَةُ الۡقَدۡر په رَمَضَانُ الۡمُبَارَک کښې ده خو کومه شپه مُعَيَّنه (Fix) نه ده ﴿2﴾ د سَيِّدُنا امامِ اعظم ابو حنيفه رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ يو مشهور قول دا دے چې لَيۡلَةُ الۡقَدۡر په پوره کال کښې تاويږي راتاويږي، کله د رَمَضَانُ الۡمُبَارَک په مياشت کښې وي او کله په نورو مياشتو کښې. هُم دا قول د سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عبّاس، سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ

مَسعُود او سَيِّدُنا عِكرَمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ نه هُم منقول دے. (عُمدۃُ القاری ج8ص253 تحت الحدیث2015)

د سَيِّدُنا اِمام شافِعِي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په نزد "شَبِ قَدر" د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په آخري عَشره كښې ده او د دې شپه مُعَيَّن (Fix) ده، په دې كښې به تر قيامته بدلون نه كيږي.

د سَيِّدُنا اِمام اَبُو يُوسُف او سَيِّدُنا اِمام محمد رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہِما په نزد لَيْلَةُ الْقَدْر په رَمَضَانُ الْمُبَارَک كښې ده خو يوه شپه مُعَيَّن (Fix) نه ده. او د هغوئي يو قول دا دے چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په آخري پينځلَّس شپو كښې لَيْلَةُ الْقَدْر وي. (ايضاً)

## شَبِ قَدر بدليږي را بدليږي

د سَيِّدُنا اِمام مالِک رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په نزد شَبِ قَدر د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د آخري عشرے په طاقو شپو كښې وي. خو كومه يوه شپه مخصوص نه ده، هر كال په دې طاقو شپو كښې تاويږي راتاويږي، يعني كله يووِيشتمه شپه لَيْلَةُ الْقَدْر وي نو كله درويشتمه، كله پينځه وِيشتمه نو كله اووه وِيشتمه او كله كله يو كم ديرشمه شپه هُم شَبِ قَدر شي. (عُمدۃُ القاری ج1 ص335)

## شيخ ابُوالحسن شاذِلي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ او شَبِ قَدر

د سلسلۀ قادِرِيَّه شاذِليه عظيم پيشوا [يعني مشر بزرګ] حضرتِ سَيِّدُنا شيخ اَبُوالحسن شاذِلي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ (مُتَوَفّٰی 656ھ) فرمائي: "چې كله د اِتوار يا چارشنبې په ورځ وړومبۍ روژه راغلې ده نو ما په يو كم ديرشمه شپه، كه د كل په ورځ وړومبۍ روژه راغلې ده نو په ما په يو وِيشتمه شپه، كه وړومبۍ روژه د نهې يا جُمُعے په ورځ راغلې ده نو په درويشتمه شپه كښې مې شَبِ قَدر موندلې ده." (تَفسیرِ صاوی ج6 ص2400)

## ووه وِيشتمه شپه شَبِ قَدر ده

اګر چې بُزرګانِ دِين او مُفَسِّرِين و مُحَدِّثِين رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيْهِم د شَبِ قَدر په تَعَيُّن كښې اختِلاف لري، خو د يو درانه اكثرِيَّت رائے هُم دا ده چې هر كال د رَمَضَانُ الْمُبَارَک ووه وِيشتمه شپه شَبِ قَدر ده. د سيِّدُ الانصار، سيِّدُ الفُقَراء، حضرتِ سَيِّدُنا اُبَـیّ بِن كَعْب رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په نزد د رَمَضان ووه وِيشتمه "شَبِ قَدر" ده. (صحيح مُسلِم ص383حديث762)

حضرتِ سَيِّدُنا شاه عبد العزيز مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هُم فرمائي چې شَبِ قَدر د رَمَضَانُ الْمُبَارَک ووه وِيشتمه شپه وي. د خپل بيان د تائيد د پاره هغوئي دوه دليلونه بيان كړي دي: ﴿1﴾ په لَيْلَةُ الْقَدْر كښې نهه حُروف دي او دا كلِمه په سُوْرَةُ الْقَدْر كښې درې ځله راغلې ده، دغسې درې له چې په نهه كښې ضرب وركړے شي نو حاصِلِ ضرب "اووه وِيشت" راځي كوم چې دې خبرې طرف ته اِشاره كوي چې شَبِ قَدر اووه وِيشتمه شپه ده. ﴿2﴾په دې سُورهٔ مباركه كښې ديرش كلِمات (يعني ديرش الفاظ) دي. اووه وِيشتمه كلِمه "هِیَ" ده چې د هغې مركز لَيْلَةُ الْقَدْر دے. لكه د الله پاک له طرفه نيكو خلقو د پاره دا اِشاره ده چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک اووه وِيشتمه شپه شَبِ قَدر دے. (تَفسِير عزيزی ج3 ص259 مُلَخَّصاً)

## لكه شَبِ قَدر يې چې حاصله كړه

**فرمانِ مُصطَفیٰ** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: چا چې "لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ [4]" درې ځله اولوستو نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصِله كړه. (ابنِ عِساكر ج65 ص276) كه كيدے شي نو هره شپه دا دُعا درې ځله لوستل پكار دي.

---

[4] تَرجَمه: يعني د الله پاک نه سِوا هيڅ څوک د عِبادت لائق نشته، چې حِلم او كرم والا دے، الله پاک دے كوم چې د اووه واړه آسمانونو او د لوي عرش مالِک دے.

اے د رضائے اِلٰهى خواهشمندو! كه كيدے شي نو تهِول كال هره شپه په اِهتِمام سره څه نه څه نيک عمل کول پکار دي ولې چې معلومه نه ده چې کله شَبِ قَدر شي. په هره شپه کښې دوه فرض نمونځونه راځي، نورو نمونځونو سره سره د ماښام او ماسختن د نمونځونو هُم جَمعې سره ښه اِهتِمام کول پکار دي چې که په شَبِ قَدر کښې د دې دواړو نمونځونو جَمعه نصيب شوه نو اِنۡ شَآءَاللّٰه بيړئ به مو پوريوځي، بلکې هُم دغسې د پينځه واړو نمونځونو سره سره د ماسخُتن او سحر د جَمعې هُم په خُصُوصِيَّت سره عادت جوړ کړئ. دوه فرامينِ مُصطَفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ﴿1﴾ چا چې د ماسختن نمونځ جَمعې سره وکړو لکه هغه چې نيمه شپه قِيام وکړو او چا چې د سحر نمونځ جَمعې سره ادا کړو نو لکه هغه چې پوره شپه قِيام وکړو. (مُسلِم ص329 حديث656) ﴿2﴾ چا چې د ماسختن نمونځ جَمعې سره وکړو تحقِيق هغه د لَيۡلَةُ الۡقَدۡر نه خپله حِصّه حاصله کړه. (مُعجَم كبير ج8 ص179 حديث7745)

اے د الله پاک رَحمت لټوونکو! که ټول کال مو هُم دا د جَمعې عادت جوړ وي نو اِنۡ شَآءَاللّٰه په شَبِ قَدر کښې به هُم د دې دواړو نمونځونو جَمعه درنصيب شي او ټوله شپه د خوب کولو باوجود به اِنۡ شَآءَاللّٰه د هرې شپې په شان په شَبِ قَدر کښې هُم لکه د ټولې شپې عبادت کوونکي قرار شئ.

## د شَبِ قَدر دُعا

اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنۡهَا نه رِوايت دے: ما په بارګاهِ رِسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې عرض وکړو: يارَسُولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! که ما ته د شَبِ قَدر عِلم اوشي نو څه اولولم؟" اِرشاد يې اُوفرمائيلو: داسې دُعا اُوغواړه: اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ عَفُوٌّ كَرِيۡمٌ تُحِبُّ الۡعَفۡوَ فَاعۡفُ عَنِّى. يعني اے الله پاکه! بيشکه ته بخښونکے يې او بخښنه ورکول خوښوې څکه ما اُوبخښې. (تِرمِذِى ج5 ص306 حديث3524)

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! کاش چې! مونږه هره شپه کم از کم يو ځل دا دُعا لوَلو چې کله خو به را ته شَبِ قَدر نصيب شي. او په اووه ويشتمه شپه خو دا دُعا بيا بيا لوَستل پکار دي.

## د شَبِ قَدر نفلونه

حضرتِ سَيِّدُنا اِسمٰعِيل حَقِّي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په "تَفسِير رُوحُ الْبَيَان" کښې دا روايت نقل کوي: څوک چې په شَبِ قَدر کښې د اخلاص په نِيَّت نفلونه وکړي د هغه تير شوي او راروان ګناهونه به اُوبخښلے شي. (رُوحُ البَيان ج10 ص480)

چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک آخري لس ورځې به راغلې نو سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به عبادت ته ملا اوتړله، په هغې کښې به يـې شپې رُوڼـولې [يعني په وِيښه تيرولې] او د خپل کور کسان به يـې راويښول. (اِبنِ مَاجَه ج2 ص357 حديث1768)

**حضرتِ** سَيِّدُنا اِسمٰعِيل حَقِّي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ نقل کوي چې بُزرګانِ دِين رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہِم به د دې عَشرے په هره شپه کښې دوه رکعاته نفل د شَبِ قَدر په نِيَّت ادا کول. او بعضو اَکابِرو نه منقُول دي چې څوک هره شپه لس آياته په دې نِيَّت لوَلي نو د دې د بَرَکت او ثواب نه به نه محرومه کيږي.

خوږو او محترمو اسلامي وروڼـو! دا شپه د بَرَکتونو کان دے. چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا اَنَـس بن مالِک رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: يو ځل چې د رَمَضان مياشت راغله نو حُضُورِ انور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: "تاسو ته دا مياشت راغلې ده چې په دې کښې يوه شپه داسې هُم ده چې د زرو مياشتو نه بهتره ده. کوم کس چې د دې شپې نه محرومه پاتې شو، لکه د ټولو خيرونو نه چې محرومه پاتې شو او د دې د خير نه محرومه نه پاتې کيږي خو هغه کس کوم چې حقيقةً محرومه دے."
(اِبنِ مَاجَه ج2 ص298 حديث1644)


اے زمونږه خوږه خوږه **الله** پاکه! د خپل خوږ حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر مونږ ګنهګاران د لَيْلَةُ الْقَدْر د بَرَکتونو نه مالامال کړې او زيات نه زيات د خپل عبادت توفيق را کړې. اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

لیلۃ القدر میں مطلعِ الفجر حق
مانگ کی استقامت پہ لاکھوں سلام (حدائقِ بخشش ص299)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## د راروانې هفتې رساله





فيضانِ مدينه محلّه سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ.

UAN +92 21 111 25 26 92   0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net